پوهنمل حاجي محمد نوزادي
۲۰۱۵/۰۸/۲۳

# استقلال څنګه تر لاسه سو ؟

(لومړۍ برخه)

ملي او تاريخي ورځي د هر هيواد د پاره هغه ارزښت لرونکي نيټې دي چي لمانځل ، خوندي کول او درناوۍ يې د اړوندو هيوادپالو اولسونو د پاره د ځانګړو نه هيريدونکو اخلاقي دندو څخه ګڼل کيږي . ځيني دا ډول ورځي د هيواد په کچه او ځيني يې بيا کيدلای سی د نړۍ په کچه ستر ارزښت ولري .

زموږ د هيواد د استقلال ورځ چي د ځوان او زړه ور ، شاه امان الله په مشري تر لاسه سوه ، د ۱۹۱۹ز کال د اګسټ ۱۸ نيټه چي د ۱۲۹۸ ل. کال د زمري مياشتي د ۲۸ نيټې سره سمون لري . دا هغه ورځ ده چي ارزښت يې د افغانستان له پولو څخه په اسيا ، افريکا او لاتيني امريکا کي ډير بهر تللي دي . هغه مهال د برتانيوي استعمار مزي د نړۍ په ګوټ ګوټ کي دومري اوږدي غځيدلي وي چي په کل ډول يې په امپراتورۍ کي ، لمر لويدو خپل فزيکي مفهوم هلته له لاسه ورکړی وو .

دغي ورځي په نوموړو لويو وچو کي تر شکيلاک لاندي اولسونو د پاره د ملي ازادي غوښتونکو غورځنګونو رينو ته اوبه ورکړي او د دوي و مرژوانده ازادي غوښتني احساس ته يې نوې ساه ور پو کړه . ددې وياړمني نيټې مستقيم اغيز تر ټولو زيات د هند په نيمه وچه کي د انګريزي شکيلاک په وړاندي را څرګند سو او په ځانګړي ډول ددي سيمې مسلمانو اولسونو هم شاه امان الله خپل د ټولواک په توګه ياداوه .

لنډه داچي ددې ورځي د وياړونو او د نړۍ پر ملي ازادي بخښونکو غورځنګونو باندي د هغې د اغيز په اړه بشپړي يادوني د يوې يا څو مقالو په ترڅ کي د امکان نه وتلي خبره ده . پدې اړه که هر څو کتابونه ليکل سويدي خو د لا ډيرو و ليکلو ته اړتيا ده .

پدې وروستيو کلونو کي له نيکه مرغه د انترنيټي اسانتياوو له برکته ددې ورځي په اړه ډيري درنې ليکنې د داسي څيړونکو او تاريخپوهانو لکه کانديد اکاډميسن محمد اعظم سيستانی او نورو د زورور قلم په مټ د رسنيو پلاس ورکړل سويدی . زه داګړي ددغي لنډې ليکني د زغم په پام کي نيولو سره غواړم يوازي څو کرښې د هغو ځوانانو د مالوماتو پخاطر وړاندي کړم چي لا تر اوسه يې پدې اړوند د زياتو لوستلو امکانات تر لاسه کړي ندی .

کله چي امير حبيب الله خان د لغمان په کله ګوش کي د ښکار و ميلې ته تللی وو ، د شپې دخوا د خوب پر مهال په خپله خيمه کی په مرموز ډول د توپنګچي په مرمۍ سره ووژل سو . ورور يې سردار نصرالله خان پدې ميله کي ورسره او زوي يې شاهزاده امان الله په کابل کي د چارو د سرپرست په توګه پاته وو . ددې نازک حالت څخه په ګټه اخيستلو سره ، سردار نصر الله خان سمدستي د ورسره مخورو او د جلال اباد د ګارنيزون او قومي مشرانو څخه د ځان د پاره د ۱۹۱۹ کال د فيبروري په ۲۱ نيټه بيعت واخيست ، ځان يې امير اعلان کړ او وژل سوی شاه يې خاورو ته و سپاره . ده په ظاهره داسي و ښودل چي ګويا ده د شاهي تاج د ترلاسه کولو پخاطر دا بيعت ندي اخيستی بلکه د علماوو فتوا داسي وه چي تر څو نوی شاه ټاکل سوی نه وي ، د مرحوم شاه ښخول جواز نلري . ځکه نو دی ( سردار نصرالله خان ) و دي ته اړ ايستل سو چي بايد بيعت ومني او تاج پر سر کړي . امير نصرالله خان د بيعت اخيستلو سره سم پدې اړه شاهزاده امان الله ته د يوه فرمان ډوله ليک وليږه او په ترڅ کي يې له موضوع نه خبر ورکړ او ده ته يې داسی وښودل چی دا تاج يې د نوموړی مجبوريت او اړتيا له مخي پر سر کړي دي . د ليک متن داسی ترتيب سوی وو چي د شاهزاده امان الله لخوا يې هم د بيعت تمه درلوده .

شاهزاده امان الله چي بيله هغه په شاهي ارګ کي د چارو سرپرست پاته وو ، کله چي له موضوع نه خبر سو ، د فيبروري په ۲۲ نيټه يی په ارګ کي د يو زيات شمير ملکي او نظامي لوړ پوړو کسانو په حضور کي امير نصرالله خان ته د بيعت څخه انکار وکړ او ويې ويل : « . . . . د شهيد امير قتل د هغه چا په تحريک تر سره سوی چي پخپله د سلطنت غوښتونکی دی . زه به هيڅکله هم داسی چا ته بيعت ور نکړم چي لاسونه يې د امير په وينو ککړ دي او زه په يوازي سر اماده يم چي د پلار انتقام مي واخلم . هغه څوک چي پدي کار کي زما د نظر سره


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

موافق دي ، را دی سی او زما ښی خواته دي ودريږي » . لکه څنګه وتلی تاريخپوه ښاغلی مير غلام محمد غبار يادوونه کوي ، لومړی سړی چی له ځايه پاڅيد او د شاهزاده ښی خواته ودريد ، هغه د کابل د قول اردو د لومړی لوا قوماندان ، نائب سالار صالح محمد خان وو . تر ده وروسته يو په بل پسي نور نظامی او ملکي لوړپوړي چارواکي هم دده په ملاتړ راغلل او ده ته يي بيعت وکړ .

ښاغلي غبار پدې اړه زياتوي : « . . . . د فيبروري په ۲۴ نيټه د کابل اوسيدونکي او په پلازمينه کي ميشت نظامي قوتونه د مرادخاني په ډګر کي را غونډ سوی وه او د نوي ځوان امير انتظار يي کيش . امير امان الله خان بيله ساتونکو څخه يوازي د ارګ نه پر آس باندي سپور را ووت ، راغی او د خلګو منځ ته پداسی حال کي ور ننوت چي نظامي لباس يي اغوستی او لوڅه کړی توره يي تر ملا ځړولي وه . په همدغه غونډه کي ده خپله وتلي او تاريخي وينا خلګو ته واورول ، د هيواد **خارجي استقلال** او په داخل کي يي د اتباعو **فردي ازادي** اعلان کړه . د مساوات ، ورورګلوی ، صداقت او د دولت لخوا يي د عدالت د تامين په اړه خبري وکړي . دا وينا په ډيري خوښی سره د اروېدونکو لخوا په نارو او ولولو سره بدرګه سوه . . .»

لکه څنګه چي مو وليدل ، امان الله خان پخپلي دغي تاريخي وينا کي د لومړي ځل د پاره د خارجی استقلال او په داخل کي د اتباعو د فردي ازادی ړغ پورته کړ . دا هغه مهال دی چي افغانستان په خپلو کورنيو چارو کي بشپړه ازادي لری ، مګر خارجي سياست يي د انګريزانو لخوا څخه اداره کيدي .

نور بيا



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ